# د لوړو زده کړو وزارت

# د ننګرهار پوهنتون

## حقوقو او سياسي علومو پوهنځی

### ماسترۍ برنامه

# تفريق(قضايي طلاق) د اسلامي فقهې او مدني قانون له نظره

Ketabton.com

څېړونکی: ولي الله حنيفي

د ننګرهار پوهنتون د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي د ماسترۍ برنامې محصل

کال:............................................................................................١۴٠١

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

**لنډيز**

تفريق د عربي ژبې لفظ دی، چې په عربي ژبه کې په متعدوو معناو سره راغلی دی، لکه پاشل، ټوټه ټوټه کول، یو شی د بل شي څخه بيلول، همدا شان د حساب د علم له نظره، له لوی عدد څخه د کوچني عدد کمولو ته تفريق وايي. البته بايد يادونه وکړو چې د افغانستان مدني قانون د تفريق تعريف نه دی کړی، تفريق چې په قضايي طلاق سره هم يادېږي، هغه طلاق ته ويل کيږي کله چې د ښځې او خاوند تر منځ ګډ ژوند تېرول ناممکن شي او د تحمل څخه ووځي او خاوند په دې رضا نه وي چې خپلې ښځې ته طلاق ورکړي نو په دې صورت کې ښځه حق لري چې محکمې ته عارضه شي او د واکمنې محکمې څخه د طلاق غوښتنه وکړي، دې حالت تفريق يا قضايي طلاق ويل کيږي. يا په بل عبارت، د زوجې لخوا د طلاق غوښتنه د واکمنې محکمې څخه د خپل زوج په وړاندې، دې ته تفريق يا قضايي طلاق وايي، البته بايد يادونه وکړو چې د افغانستان مدني قانون تفريق نه دی تعريف کړی مګر د تفريق د نامه لاندې يې د تفريق موارد او احکام ذکر کړي دي.

تفريق نن ورځ يوه خورا مهمه موضوع ده؛ ځکه کورنی تاوتريخوالی کله کله عادي او د تحمل وړ وي مګر په ځينو مواردو کې د تداوم په صورت کې له تحمل وځي او بالاخره تصميم داسې شي چې زوجيت رابطه د تفريق يا قضايي طلاق په سبب د ښځې (زوجې) په غوښتنه له مينځه لاړه شي، نو مهمه ده چې تفريق تعريف، انواع يې مشخص او اړوندو حالاتو، په اسلامي شريعيت کې د تفريق په اساس او د مدني قانون اسلامي فقهې له نظره موضوع روښانه شي، او لوستونکو ته په مفصل ډول ګټور معلومات د معتبرو سرچينو په حواله په لاس کې ورکړل شي، نو دا موضوع "تفريق د مدني قانون او اسلامي فقهې له نظره" يوه خورا مهمه موضوع ده، نو له دې کبله ما غوره وګڼله چې په دې موضوع باندې څېړنه وکړم.

د تفريق چې يوې اختلافي موضوع ده، ځينې علماء يې په مشروعيت قايل دي اما ځينې يې نه مني، د دې تر څنګ په فقه او قوانينو کې هم د تفريق د نوعيت په اړه اختلافات موجود دي؛ نو د همدې اختلافاتو د روښانه کولو او د مقنع دلايلوپه رڼا کې د اختلاف د اساسي منشاء د معلومولو او ورته د مناسبې حللارې د راويستلو لپاره مې دغه موضوع د څېړنې لپاره انتخاب کړه تر څو په دې برخه کې ګټور معلومات د لوستونکو لاس ته ورشي.

دا موضوع چې د " تفريق (قضايي طلاق) د اسلامي فقهې مدني قانون له نظره" تر عنوان لاندې تر سره شوې ده تر په پښتو ژبه پکې اوسه پکې چا کوم کتاب او يا مقاله نه ده ليکلې، البته بايد يادونه وکړو چې، تفريق (قضايي طلاق) باندې په ځينو کتابونو کې لکه د فاميل حقوق د پوهنوال شمس الاسلام شمس صافی صاحب تاليف، د طلاق احکام او داسې نور... کې ترې په جزي ډول يادونه شوې ده، اما په دې ليکنه کې مونږ کوشش کړی چې د " تفريق (قضايي طلاق) د اسلامي فقهې او مدني قانون له نظره " په تفصل سره د څيړنې لاندې ونيسو او د همدې اړوند ګټور معلومات د لوستونکو په لاس کې ورکړو.
دا چې هره څېړنه د يوې ځانګړې تګلارې څخه په استفادې تر سره کيږي، نو پر همدې بناء ما دا څېړنه د کتابتوني ميتود څخه په استفادې تر سره کړې ده، د معلوماتو په راټولو، تحليل او تجزيه کې مې له خورا زيات دقت نه کار اخيستی، زياته اتکاء مې په لومړي لاس معلوماتو باندې کړې ده، د دې تر څنګ؛ د ماخذونو په اړه مې د لمن ليک سيستم څخه استفاده کړې ده، د هر نقل شوي متن په وروستی برخه کې د لمن ليک په ذريعه ماخذ ذکر شوی دی، همدا شان ځينو اصطلاحات چې په متن کې يې د تعريف مجال نه وو د صحفې په وروسته برخه کې تعريف شوي او شمارو په ذريعه په نښه شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لړلیک

عنوان............................................................................................مخ
سریزه............................................................................................۱
د موضوع اهمیت..............................................................................۱
د څېړنې موخې................................................................................۲
څېړنیزه ستونزه.................................................................................۲
پخوانیو لیکنو ته منطقي کتنه..................................................................۲
څېړنیزه کړنلاره................................................................................۲

## لومړی فصل

## د تفریق (قضايي طلاق) پيژندنه

لومړی مبحث: د تفریق پيژندنه...............................................................۳
لومړی مطلب: د تفریق لغوي پيژندنه.........................................................۳
دوهم مطلب: د تفریق اصطلاحي پيژندنه....................................................۳
دوهم مبحث: د تفریق مشروعیت..............................................................۳
دریم مبحث: د تفریق(قضايي طلاق) ماهیت..................................................۵

## دويم فصل

## د تفریق(قضايي طلاق) مقارنه د اسلامي فقهې او مدني قانون له نظره

لومړی مبحث: د عیب په سبب تفریق.........................................................۷
دوهم مبحث: د ضرر په سبب تفریق...........................................................۸
دریم مبحث: د غیابت په سبب تفریق ........................................................۹
څلورم مبحث: د عدم انفاق په سبب تفریق...................................................۱۰
پایله...........................................................................................۱۱
ماخذونه.......................................................................................۱۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

**سریزه**

**الحمد الله رب العلمین وبه نستعین وبعد!**

الله ج د انسان د پیداېښت سره سم د هغې د تسکین، ارام او اسوده ژوند لپاره د هغې له ذات نه د هغې لپاره جوړه پیدا کړه بیرته یې د هغې مانیه(ښځه) ورگرځوله، د شرعي نکاح په سبب یې هغوی ته د گډ ژوند او د سالم نسل د تولید مشروع لار ښودله، چې په پایله کې د نړۍ پر مخ د خدای ج یو نا اشنا مخلوق ( انسان) خلق شو، الله ج انسان ته لوی شان او عزت ورکړ، ټول مخلوقات یې د هغې د گټې او منفعت لپاره مسخر کړل، تر څو اسوده او ارام ژوند وکړي او په ښه شان سره د الله احکام ومني او اطاعت یې وکړي، د دې سترو نعمتونو څخه یو هم د ازدواج یا د ښځې او خاوند تر منځ په شرعي طریقه گډ ژوند تېرول دي.

د دغه گډ ژوند د رابطې جوړول یو لړ اصول او قواعد لري چې د هغې په چوکاټ کې باید دغه رابطه جوړه شي چې هغه د نکاح د عقد د صحت شرایط، د انعقاد شرایط او د لزوم شرایطو څخه عبارت دي، چې د دې ټولو شرایطو په تحقق سره د زوجیت یوه سالمه رابطه رامنځته کېږي او په اساس یې طرفین (زوج او زوجه) یو د بل په وړاندې حقوق او وجایب پیدا کوي، چې په رعایت سره د زوجیت اړیکه په درست شکل مخ ته ځي او تداوم پیدا کوي.

اما دا چې انسان یو احساساتي، ناشکره او کفور مخلوق دی، نو له دې وجې نه د الله ج نعمتونه له پامه غورځوي، سرکشي اختیاروي او منحرفو اعمالو ته مخه کوي، چې له دې وجې ځینې وختونه یې په کور د خپلې مېرمنې سره هم مشکلات منځته راځي، ځینې وختونه دا مشکلات عادي او د تحمل وړ وي، مگر کله کله تر دې حده رسي چې د گډ ژوند تیرول ناممکنوي، نو په دې اساس د دواړو لوریو ناراضیتونه د دې باعث شي چې د زوجیت اړیکه د طلاق، خلع، فسخه او تفریق په سبب له منځته لاړه شي، نو دا چې زمونږ بحث اساسي موضوع تفریق دی، نو دلته د طلاق، خلع او فسخې څخه صرف نظر کوو او تفریق چې په قضایي طلاق هم یادېږي، د څېړنې لاندې نیسو.

دا چې تفریق په لغت او اصطلاح کې څه ته وایي؟ انواع یې کوم دي؟ په کومو مواردو کې تفریق رامنځته کېدای شي، ایا تفریق په اسلامي شریعیت کې  اساس لري؟ د افغانستان مدني قانون او اسلامي فقهې له نظره تفریق کوم مشابهتونه او توپیرونه لري، دا هغه موارد دي چې، د دې څېړنې په پایله کې به روښانه شي او په دې برخه کې گټور معلومات د معتبرو سرچینو په حواله د لوستونکو لاس ته ورشي.

**د موضوع اهمیت**

تفریق نن ورځ یوه خورا مهمه موضوع ده؛ ځکه کورنی تاوتریخوالی  کله کله عادي او د تحمل وړ وي مگر په ځینو مواردو کې  د تداوم په صورت کې له تحمل وځي او بالاخره تصمیم داسې شي چې زوجیت رابطه د تفریق یا قضایي طلاق په سبب د ښځې (زوجې) په غوښتنه له مینځه لاړه شي، نو مهمه ده چې تفریق تعریف، انواع یې مشخص او اړوندو حالاتو، په اسلامي شریعیت کې د تفریق په اساس او د مدني قانون اسلامي فقهې له نظره موضوع روښانه شي، او لوستونکو ته په مفصل ډول گټور معلومات د معتبرو سرچینو په حواله په لاس کې ورکړل شي، نو دا موضوع "تفریق د اسلامي فقهې او مدني قانون له نظره" یوه خورا مهمه موضوع ده، نو له دې کبله ما غوره وگڼله چې په دې موضوع باندې څېړنه وکړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د موضوع موخې**

۱: د تفريق پيژندنه، د ډولونو او موارادو په اړه معلوماتو وړاندې کول.

۲: د تفريق مشروعيت د اسلامي شريعيت له نظره روښانه کول.

۳: د مدني قانون په رڼا کې د تفريق اړوند احکام روښانه کول.

۴: د وضعي قوانيو او اسلامي فقهي له نظره د تفريق مقارنه.

**پوښتنې؟**

۱: ايا ښځه دا حق لري چې د مېړه څخه د طلاق غوښتنه وکړي؟

۲: ايا د تفريق(قضايي طلاق) حق په فقه او قانون کې اساس لري؟

۳: په کومو موارادو کې ښځه کولای شي چې د مېړه څخه د طلاق غوښتنه وکړي؟

۴: ايا دغه طلاق چې د ښځې په مطالبه صورت مومي رجعي په حکم کې دی او که بائن طلاق په حکم کې؟

**څېړنيزه ستونزه**

د تفريق چې يو اختلافي موضوع ده، ځيني علماء يې په مشروعيت قايل دي اما ځيني يې نه مني، د دې تر څنګ په فقه او قوانينو کې هم د تفريق د نوعيت په اړه اختلافات موجود دي؛ نو د همدې اختلافاتو د روښانه کولو او د مقنع دلايلوپه رڼا کې د اختلاف د اساسي منشاء د معلومولو او ورته د مناسبې حللارې د راويستلو لپاره مې دغه موضوع د څېړنې لپاره انتخاب کړه تر څو په دې برخه کې ګټور معلومات د لوستونکو لاس ته ورشي.

**پخوانيو ليکنو ته منطيقي کتنه**

دا موضوع چې د " تفريق (قضايي طلاق) د اسلامي فقهې او مدني قانون له نظره" تر عنوان لاندې تر سره شوې ده تر په پښتو ژبه پکې اوسه پکې چا کوم کتاب او يا مقاله نه ده ليکلې، البته بايد يادونه وکړو چې، تفريق (قضايي طلاق) باندې په ځينو کتابونو کې لکه د فاميل حقوق د پوهنوال شمس الاسلام شمس صافی صاحب تاليف، د طلاق احکام او داسې نور... کې ترې په جزي ډول يادونه شوې ده، اما په دې ليکنه کې مونږ کوشش کړی چې د " تفريق (قضايي طلاق) د اسلامي فقهې او مدني قانون له نظره " په تفيصل سره د څېړنې لاندې ونيسو او د همدې اړوند ګټور معلومات د لوستونکو په لاس کې ورکړو.

**کړنلاره**

دا چې هره څېړنه د يوې ځانګړې تګلارې څخه په استفادې تر سره کېږي، نو پر همدې بناء ما دا څېړنه د کتابتوني ميتود څخه په استفادې تر سره کړې ده، د معلوماتو په راټولو، تحليل او تجزيه کې مې له خورا زيات دقت نه کار اخيتسی، زياته اتکاء مې په لومړي لاس معلوماتو باندې کړې ده، د دې تر څنګ؛ د ماخذونو په اړه مې د لمن ليک سيستم څخه استفاده کړې ده، د هر نقل شوي متن په وروستی برخه کې د لمن ليک په ذريعه ماخذ ذکر شوی دی، همدا شان ځينو اصطلاحات چې په متن کې يې د تعريف مجال نه وو د صحفې په وروسته برخه کې تعريف شوي او شمارو په ذريعه په نښه شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لومړی فصل

## د تفریق پیژندنه

### لومړی مبحث: د تفریق لغوي او اصطلاحي پیژندنه

#### لومړی مطلب: د تفریق لغوي تعریف:

تفریق د عربي ژبې لفظ دی، چې په عربي ژبه کې په متعدوو معناو سره راغلی دی، لکه پاشل، ټوټه ټوټه کول، یو شی د بل شي څخه بېلول، همدا شان د حساب د علم له نظره، له لوی عدد څخه د کوچني عدد کمولو ته تفریق وایي.[1]

#### دوهم مطلب: د تفریق اصطلاحي پیژندنه

البته باید یادونه وکړو چې د افغانستان مدني قانون د تفریق تعریف نه دی کړی، تفریق چې په قضایي طلاق سره هم یادیږي، هغه طلاق ته ویل کیږي کله چې د ښځې او خاوند تر منځ ګډ ژوند تېرول ناممکن شي او د تحمل څخه ووځي او خاوند په دې رضا نه وي چې خپلې ښځې ته طلاق ورکړي نو په دې صورت کې ښځه حق لري چې محکمې ته عارضه شي او د واکمنې محکمې څخه د طلاق غوښتنه وکړي، دې حالت تفریق یا قضایي طلاق ویل کیږي. یا په بل عبارت، د زوجې لخوا د طلاق غوښتنه د واکمنې محکمې څخه د خپل زوج په وړاندې، دې ته تفریق یا قضایي طلاق وایي[2]، البته باید یادونه وکړو چې د افغانستان مدني قانون تفریق نه دی تعریف کړی مګر د تفریق د نامه لاندې یې د تفریق موارد او احکام ذکر کړي دي.

### دویم مبحث: د تفریق مشروعیت

دا چې طلاق د خاوند انحصاري صلاحیت دی، مګر په هغه صورت کې کله چې خاوند او ښځې تر منځ ګډ ژوند له تحمل څخه ووځي او د طلاق انحصاري صلاحیت نه خاوند سوء استفاده وکوي، نو په دې صورت کې ښځې ته دا اجازه ورکړل شوې ده چې، واکمنې محکمې ته د خپل خاوند په وړاندې عارضه شي او د طلاق مطالبه وکړي او محکمه د صریحو دلایلو او اثبات په صورت خاوند په دې ملزم کړي چې ښځې ته طلاق ورکړي، د فقهاوو په کتابونو کې د نظر او پلټنې څخه وروسته دا جوتیږي چې په کل کې د تفریق په مشروعیت کې د فقهاوو ترمنځ شبه اجماع موجوده ده، سره له دې چې د فقهاوو ترمنځ د تفریق د حکم د ساحې په پراخوالي او تنګوالي کې اختلاف وجود لري، اوس دلته بعضې دلایل د تفریق د مشروعیت په اړه د قران کریم، سنت او د معقول څخه ذکر کوو.

#### لومړی مطلب: القران الکریم

الله تعالی د القران الکریم د سورت البقره په ۲۲۹ نمبر ایت کې فرمایي.

**"الطَّلَاقُ مَرَّتَانِ فَإِمْسَاكٌ بِمَعْرُوفٍ أَوْ تَسْرِيحٌ بِإِحْسَانٍ"**[3]

ژباړه: طلاق دوه ځله دی، بیا دې یا په سمه توګه ښځه وساتل شي یا دې په ښه توګه رُخصت کړی شي.

[1] : عمید، حسن(۱۳۸۹). فرهنگ فارسي عمید، انتشارات راه رشد، تهران، ص ۳۵۴

[2] : نصر الله ستانکزی(۱۳۸۷) د حقوقي اصطلاحاتو قاموس، پروژه امور عدلی و قضایی افغانستان USID، ص ۵۹

[3] : القران الکریم، {سورة البقرة، ایت 229}

(c) ketabton.com: The Digital Library

.د استدلال وجه: د زوجينو تر منځ علاقه بايد په هغه حقوقو چې الله تعالی مقرر کړي او هغه حقوق چې د خلکو ترمنځ متعارف دي او شريعت خلاف نه دي، ولاړه وي؛ خو کله که دغه حقوق محقق کېدل منافي شي، نو بايد تسريح باحسان يعني طلاق رامنځ ته شي، که چېرته زوج په خپله خوښه ښځې ته طلاق نه ورکوي، نو قضاء د زوجينو ترمنځ په تفريق حکم کوي، تر څو د هغه ضرر مخه ونيول شي، چې ښځې ته متوجه دی.[4]

همدا شان، الله د سورت البقره په ۲۳۱ نمبر ايت کې فرمايي.

**"وَإِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَآءَ فَبَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ فَأَمْسِكُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ أَوْ سَرِّحُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ ۚ وَلَا تُمْسِكُوهُنَّ ضِرَارًا لِّتَعْتَدُوا ۚ وَمَن يَفْعَلْ ذَٰلِكَ فَقَدْ ظَلَمَ نَفْسَهُ ۚ وَلَا تَتَّخِذُوٓا ءَايَٰتِ اللَّهِ هُزُوًا ۚ وَاذْكُرُوا نِعْمَتَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ وَمَآ أَنزَلَ عَلَيْكُم مِّنَ الْكِتَٰبِ وَالْحِكْمَةِ يَعِظُكُم بِهِۦ ۚ وَاتَّقُوا اللَّهَ وَاعْلَمُوٓا أَنَّ اللَّهَ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمٌ[5]"**

ژباړه: او کله چې تاسي ښځو ته طلاق ورکړئ او د هغو عدت په پوره کېدو شي، نو يا يې په ښه توګه وساتئ يا يې په ښه شان رُخصت کړئ، فقط د ربړولو لپاره يې مه ايساروئ، چې دا به تېرى او زياتى وي؛ او څوك چې دا كار وكړي، هغه به په حقيقت كې خپله پر خپل ځان ظلم وكړي، د الله په آيتونو ملنډې مه وهئ، دا مه هېروئ چې الله په څه لوى نعمت تاسې سر لوړي كړي ياست، هغه تاسې ته نصحيت كوي چې، كوم كتاب او حكمت چې هغه پر تاسې نازل كړى، د هغه درناوى وكړئ، له الله څخه ووېرېږئ او ښه وپوهېږئ چې، الله له هري خبرې څخه خبر دى او په هر څه باندې پوهېږي.

د استدلال وجه : په ايات کريمه کې د امساک بمعروف څخه هدف د زوجې د حقوقو پوره کول دي چې، پر خاوند لازم دي کله که دغه حقوق په محقق کولو کې خاوند ناتوانه شي، نو بديل ته رجوع کېږي چې، هغه دغه ايات کريمه کې ذکر شوی دی چې، تسريح بمعروف دی او هدف ترينه طلاق دی او ايات کريمه کې په صريحه توګه د امساک مع ضرر څخه نهي راغلي ده؛ ځکه چې امساک مع ضرر او امساک بمعروف يو د بل نقيض دي او په نقضين کې قاده دا ده چې نه پورته کېږي او نه سره جمع کېږي، نو که امساک په معروف سره وي، نو په دې وخت کې ضرر نفي کېږي او کله که امساک په معروف نه وي، نو ضرر رامنځ ته کېږي چې، الله تعالی هغه کس چې امساک بضرر کوي د ځان سره ظلم کوونکی پېژندلی دی، نو په دې وجه چې د ښځي په حقوق باندی تيری کوونکی دی او د زوجيت ژوند يې مختل کړی دی، همدارنګه د نکاح اهداف يې هم له منځه وړي دي، نو په دې اساس د ضرر د لرې کولو لپاره که زوج په خپله خوښه طلاق نه ورکوي؛ نو قاضي ته د تفريق صلاحيت ورکول شوي دی او زوج د ظلم په مقابل کې دغه تفريق دنيوي جزا ګڼل کيږي.[6]

د دې تر څنګ الله تعالی د سورت النساء په ۱۳۰ نمبر ايت فرمايي.

**"وَإِن يَتَفَرَّقَا يُغْنِ اللَّهُ كُلًّا مِّن سَعَتِهِۦ ۚ وَكَانَ اللَّهُ وَٰسِعًا حَكِيمًا" [7]**

---

[4] : ابن العربي(۵۴۳)، احکام القران، ص ۲۷۰
[5] : القران الکريم،{سورة البقرة، ايت 231}
[6] : جلال الدين السيوطي(۵۶۶ق). الأشباه والنظائر، ص ۳۸
[7] : القران الکريم، {سورة النساء، ايت 130}

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه: خو که (مېړه او ښځه) یو له بله (په طلاق سره) بېل هم شي، نو الله تعالی به په خپل پراخ قدرت سره هر یو بل ته له محتاجی څخه بې نیازه کړي، د الله ج د مهربانۍ لمن ډېره پراخه ده او هغه د حکمت خاوند دی.

د استدلال وجه: په دې ایت کریمه کې په صریحه توګه د تفریق اجازه ورکول شوې ده، په هغه وخت کې چې صلح ناشوني وي، نو په دغه وخت کې تفریق د زوجینو لپاره ګټور دی له سوء معاشرې څخه که چېرته په خپله خوښه نه جلا کیږي، نو قاضي ته د خصومت د رفعي په خاطر د تفریق صلاحیت ورکول شوی دی، قاضي به د خپل صلاحیت څخه په استفادې د سوء معاشرت څخه د مخنیوي په خاطر په تفریق(قضایي طلاق حکم کوي.[8]

**دویم مطلب: نبوي سنت**

**"عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ، أَنّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَضَى أَنْ : لَا ضَرَرَ وَلَا ضِرَارَ فی الاسلام[9]."**

ژباړه: د عبادة بن صامت رض د رسول الله صل علیه وسلم څخه روایت کوي چې، ضرر رسول او د ضرر دفع کول په ضرر باندې په اسلام کې نشته.

د دلالت وجه : پورته حدیث کې د ضرر څخه منع شوې ده همدا شان مشهوره فقهي قاعده هم د رسول الله ص د همدې حدیث شریف په مصداق شتون لري"**لَا ضَرَرَ وَلَا ضِرَارَ** " همدا شان یوه بله فقهي قاعده وایي چې (الضرر یزال) ضرر باید لرې کړای شي او دا غیر معقوله خبره ده، چې زوجین دې په ګډ ژوندانه کې له ضرره سره یو ځای پاتې شي، سره له دې چې د ضرر په لرې کېدو امر شوی دی، نو له دې څخه دا په اصبات رسېږي چې، کله که د ضرر د تفریق اسباب موجود وو، نو قاضي به پرې حکم کوي ترڅو ضرر له منځه لاړ شي، نو دلته هم د تفریق په مشروعیت باندې حجت شته.[10]

همدا شان رسول الله ص څخه په یو بل حدیث شریف روایت دی چې فرمایي.

**"أَنَّ امْرَأَةَ ثَابِتِ بْنِ قَيْسٍ أَتَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، فَقَالَتْ : يَا رَسُولَ اللَّهِ ، ثَابِتُ بْنُ قَيْسٍ مَا أَعْتِبُ عَلَيْهِ فِي خُلُقٍ وَلَا دِينٍ ، وَلَكِنِّي أَكْرَهُ الْكُفْرَ فِي الْإِسْلَامِ ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : أَتَرُدِّينَ عَلَيْهِ حَدِيقَتَهُ ؟ قَالَتْ : نَعَمْ ، قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : اقْبَلِ الْحَدِيقَةَ ، وَطَلِّقْهَا تَطْلِيقَةً"[11].**

نبي الله علیه السلام د ثابت ښځه چې د ثابت د ښه اخلاقو او دین څخه یې هم شکایت نه وه کړی او ضرر هم نه وه رامنځ ته شوی؛ بلکې د ثابت ښځې د دې لپاره د تفریق غوښتنه وکړه چې دا ویره ورسره موجوده وه چې د ثابت حقوق به پوره نکړاي شي، د تفریق له غوښتني څخه نه ده منعه کړې، نو په طریق اولی سره د ضرر په سبب د تفریق غوښتنه مشروعیت لري، نو دلته که پورته حدیث شریف ته په دقیقه توګه زیر شو په صراحت سره ترې د تفریق(قضایي طلاق) مشروعیت ثابېږي، نو ویلای شو چې، د موجه دلایلو د شتون په صورت کې ښځه د مېړه څخه د طلاق غوښتنه کولای شي، په دې کې کوم شرعي مشکل نشته اما شرط دا دی چې دلایل به مواجه وي او د ښځې لخوا به د طلاق غوښتنه د محکمې په وړاندې وي.

---

8 : انظر القرطبي(۱۹۸۸). الجامع الأحکام القرآنو ص ۲۶۲

9 : ابو عبدالله محمد بن یزید القزویني(). سنن ابن ماجة، محقق: محمد فواد عبدالباقي، بیروت حدیث ۲۳۴۰

10 : محمد کمال الدین(). الزواج و الطلاق في الفقه، ص ۱۹۲

11 : محمد بن اسماعیل ابو عبدالله البخاري الجعفي(۱۴۲۲ق). صحیح البخاري، کتاب الطلاق، باب الخلع، ص

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دریم مبحث: عقلي دلیل**

د نکاح د لوړو اهدافو څخه یو د زوجینو د روحي او جسمي سکون پیدا کېدل او د دوی تر منځ اسوده ژوند دی، لکه چې الله تعالی فرمایی "وَمِنْ آيَاتِهِ أَنْ خَلَقَ لَكُمْ مِنْ أَنْفُسِكُمْ أَزْوَاجًا لِتَسْكُنُوا إِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُمْ مَوَدَّةً وَرَحْمَةً ۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ" ژباړه: او د هغه له نښانو څخه بله یې دا ده چې، ستاسي لپاره، همدا ستاسي له جنس څخه یې مېرمني پیدا کړې، تر څوکې تاسي له هغې سره ارام تر لاسه کړئ او ستاسي د ښځې او خاوند په منځ کې یې مینه او خواخوږي پیدا کړه، په باوري ډول دې کې د هغه خلکو لپاره ډېرې نښاني دي چې؛ غور او فکر کوي. لکن کله کله دغه سکون او ارامتیا د زوجینو ترمنځ په جنجالو او لانجو په اساس له منځه ځي چې، سکون او ارامتیا په نا ارامتیا او ګډوډیو بدلیږي او د نکاح دغه هدف له منځه ځي، ځیني وختونه د دې فرصت وي چې دغه جنجالونه وزغمل شي او مصاحه وشي؛ مګر ځیني وختونه دغه جنجالونه بیا متداوم وي او مصالحه پکې هیڅ صورت نه، نیسي، نو په دې صورت کې د سلیم عقل تقاضا هم دا ده چې د ضرر د دفع کولو لپاره بېلتون رامنځته شي چې، دغه بېلتون به یا د مېړه لخوا وي چې د طلاق په نوم یادیږي او یا به د ښځې لخوا وي چې د تفریق(قضایي طلاق) په نوم یادېږي.

**دریم مبحث: د تفریق (قضایي طلاق) ماهیت**

اساسي پوښتنه دا ده چې، تفریق چې د ښځې په غوښتنه د قاضي په حکم صورت مومي، نو ایا تفریق د بائن طلاق په حکم کې دی او که د رجعي طلاق په حکم کې؟ او همدا شان، تفریق د نکاح د عقد د فسخې په حکم کې او که طلاق په حکم کې؟

په ځواب کې ویلای شو چې، د قضایي طلاق(تفریق) د ماهیت په اړه د علماوو تر منځ اختلاف موجود دی، دغه اختلاف د دې باعث شوی دی چې مدني قانون هم واحد نظر نه راخیستی، نو له دې کبله، یو شمېر علماء تفریق د رجعي طلاق په حکم کې ګڼي او بیرته رجوع جایز بولي؛ مګر یو شمېر علماء تفریق د باین طلاق په حکم کې بولي، یعني دا معنی چې د نکاح د عقد د تجدد پرته خاوند رجوع نه شي کولای. د افغانستان د ۱۳۵۵ کال نافذ مدني قانون په ځینو موارداو کې تفریق رجعي طلاق او په ځینو موارودو کې بائن طلاق بولي، دلته مدني قانون هم د فقهاء د رایو متابعت کړی دی، ان شاء په خپل ځای کې پرې بحث وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دویم فصل

## د تفریق(قضايي طلاق) مقارنه د اسلامي فقهي او مدني قانون له نظره

### لومړی مبحث: د عیب په سبب تفریق

که څه هم د طلاق انحصاري صلاحیت مېړه ته حاصل دی او کولای شي چې، په اساس یې د نکاح عقد فسخه کړي، مګر اسلامي فقهي او وضعي قوانینو په محدود مواردو کې ښځو ته دا حق ورکړی دی چې، د محکمې څخه د نکاح د عقد د فسخې مطالبه وکړي، یو د دې مواردو څخه د عیب په سبب تفریق یا جدا والی دی، یعنې کله چې مېړه په داسې مرض اخته وي چې، علاج یې ممکن نه وي او یا دا چې علاج یې اوږدې مودې ته اړتیا ولري نو په دې صورت ښځه کولای شي چې د تفریق یا جدا والي مطالبه له محکمې څخه وکړي، محکمه د ادعا د ثبوت په صورت کې په تفریق باندې حکم صادروي، د افغانستان مدني قانون هم عیب د تفریق سبب سبب بولي او پر مؤجب ښځه کولای شي چې محکمې ته عارضه شي او د تفریق غوښتنه وکړي، مدني قانون نوموړې موضوع ته په ۱۷۶ ماده کې په ډول اشاره کړې ده. " د عیب په سبب جدایي، ښځه هغه وخت کولای شي چې، د جدا والي غوښتنه وکړي چې مېړه یې په داسې مرض اخته وي چې بېرته یې جوړېدل ممکن نه وي یا د هغې د معالجې لپاره اوږده موده لازمه وي، په داسې توګه چې اوسېدل ور سره بې له کلي ضرر څخه ناممکن وي".[12]

همدا شان د جمهورو علماوو په نزد باندې د عیوبو د شتون په صورت کې د ښځې او د خاوند تر منځ جدا والي راتلای شي، امام ابو حنیفه رح وایي: د عیب د موجودیت له امله د جدایي حق غوښتنه یوازې د زوجې لپاره حاصله ده؛ ځکه چې د مېړه سره د ضرر او زیان د دفع کولو لپاره د طلاق صلاحیت دی، مګر د ښځو د حقوقو د تحفظ او د مېړه لخوا د ضرر د دفع کولو لپاره اسلامي شریعت ښځې ته د مېړه د عیوبو له امله د تفریق واک ور کړی دی.[13] د ظاهریه علماوو په نزد د زوجینو تر منځ د عیوبو د شتون په صورت کې، که د نکاح د طرفینو هر یو مېړه یا ښځه کې عیب موجود وي، نو د نکاح طرفینو ته د تفریق حق حاصل نه دی؛ په دې اړه واضح شرعي دلیل نشته.[14]

د فقهاوو په اجماع سره ثابته ده چې، د عیب په سبب تفریق کې د قاضي حکم ته اړتیا ده؛ ځکه چې د نکاح په طرفینو کې د عیوبو شتون په اساس متداعینو په دعوی کې اختلاف موجودی دی او د عیب ثبوت د قاضي له لوري صورت نیسي، تر څو منازعه پای ته ورسي.[15] د دې تر څنګ مدني قانون د عیوبو د تثبیت لپاره د اهل خبره نظر شرط ګڼلی دی چې په دې اړه ۱۸۰ ماده په دې ډول صراحت لري. "د عیوبو د تثبیت په باره کې د اهل خبره د نظریو څخه استفاده کېږي"[16] د عیب په سبب جدایي د باین طلاق په حکم کې ده چې په برخه کې د مدني قانون او فقهي تر منځ توپیر نشته او مدني قانون د احنافو او امام مالک په قول عمل کړی دی، دې موضوع ته د مدني قانون په ۱۸۰ ماده کې په دې ډول اشاره شوې ده. "د عیب په سبب جدایي بائن طلاق دی".[17] نو ویلای شو چې د عیب په سبب تفریق کې د نکاح د عقد د تجدد پرته رجوع صحت نه لري.

---

[12] : د افغانستان مدني قانون(۱۳۵۵). ماده ۱۷۶.

[13] : سید سابق(۱۹۹۷). فقه السنة، دویم ټوک، المنار للنشر و التوزیع، الفتح للا علام العربي، القاهره، صفحه ۴۳۱.

[14] : عبدالله یوسف مصطفی(۱۱۹۵). انحلال الزواج فی الفقه و القانون، مرکز الشهید عزام الاعلامي، پشاور، صفحه ۱۸۹.

[15] : احمد الغندور(۱۹۸۵). الاحوال الشخصیه في التشریع الاسلامي مع بیان قانون، مکتبه الفلاح، الکویت، صفحه ۴۹۸.

[16] : هماغه، مدني قانون، ماده ۱۸۰.

[17] : هماغه، مدني قانون، ماده ۱۸۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دوهم مبحث: د ضرر په سبب تفریق**

د مېړه او ښځې تر منځ حسن معاشرت او د محبت ژوند تېرول د فطر غوښتنه او تقاضاء ده، مګر کله چې دغه تقاضا تر لاسه نه شي او يو بل ته د ضرر ويره متصور شي، نو اسلامي شريعت او قانون د تنازع د حل لپاره د ضرر په سبب تفريق قبول کړی دی تر څو يو له بل څخه ضرر دفع شي، نوموړی موضوع د مدني قانون په ۱۸۳ ماده کې په دې دول ذکر شوی ده. "که ښځه د مېړه سره د يو ځای اوسيدو څخه د داسې ضرر دعوه وکړي چې، د يو ځای اوسيدو دوام په داسې حالت کې د زوجينو د امثالو تر منځ ناممکن کړي، کولای شي د محکمې څخه د جدا والي غوښتنه وکړي.[18] د جمهورو علماوو په نزد ښځه د تاديبي وهلو يا زجر په سبب د تفريق غوښتنه نه شي کولای، که احياناً ښځه د محکمې څخه د تفريق غوښتنه وکړي محکمه په تفريق حکم نه شي کولای فقط مېړه د ناروا وهلو او زجر څخه منع کوي.[19] همدا شان د امام مالک رح په نظر، که چېرته مېړه په مکرر ډول ښځه تعذيب کړي او ضرر ورته ورسوي، مګر ښځه د ضرر په ثبوت قادره نه وي، نو موضوع د محکمې له لوري حکمينو ته ارجاع کېږي، که چېرته بيا هم ضرر او تعذيب دوام پيدا کړي، محکمه په تفريق حکم صادروي، دا تفريق د بائن طلاق په حکم کې دی او د نکاح د عقد د تجدد پرته رجوع صحت نه لري.[20] که چېرته ښځه په محکمه کې دعوه ثابته نه کړي، مګر بيا هم په تفريق اصرار وکوي نو محکمه د دوی ته منځ دوه تنه حکمين ټاکي تر څو د دوی تر منځ صلح وکړي او عادي ژوند ته را وګرځي، پورته ذکر شوې موضوع د مدني قانون په ۱۸۵ ماده کې په دې ډول ذکر شوې ده. " که چېرته هغه ضرر چې پرې دعوه ده، ثابته نه شي او ښځه په خپلې دعوې اصرار ولري، محکمه به دوه نفره د حکم په حيث د زوجينو تر منځ د صلح لپاره ټاکي، چې حکم بايد عادل شخص وي، يوه دې د مېړه له خپلوانو څخه او بل دې د ښځې له خپلوانو څخه وي، که د زوجينو خپلوان موجود نه وي، نو حکم به د داسې اشخاصو له جملې څخه ټاکل کېږي، چې د زوجينو په حالونو پوره خبر وي، يا د زوجينو تر منځ په صلح کولو قادر وي، چې حکم بايد په محکمه کې قسم وکړي چې، خپله وظيفه به په عدل کولو او امانت لرلو تر سره کوي."[21]

همدا شان که چيرته حکم د زوجينو تر منځ په صلح کولو قادر نه شي او د اختلاف موضوع زوجين يا يو د هغوی څخه او يا د اختلاف اساسي منشاء معلومه نه وي، نو ښځه د تفريق مطالبه کولای شي، ذکر شوې موضوع د مدني قانون ۱۸۸ ماده کې په دې ډول ذکر شوې ده. " که حکم د زوجينو تر منځ په اصلاح کولو موافق نه شي او د اختلاف منشاء مېړه يا زوجين وي، يا د اختلاف منشاء بيخي معلومه نه وي، محکمه د هغوی تر منځ د جدايي حکم کوي، که ښځه د اختلاف منشاء وي، حکم به د ټول مهر يا د هغې د يوې حصې په بدل کې تصميم نيسي.[22]

د ضرر په سبب جدايي د بائن طلاق په حکم کې ده، چې ذکر شوې موضوع ته مدني قانون ۱۸۴ مادې په دې ډول اشاره کړې ده. " که د دعوې مورد ضرر ثابت شي، او د زجينو تر منځ اصلاح صورت ونه نيسي، محکمه به په جدايي حکم کوي، دغه جدايي د يو بائن طلاق حکم لري".[23] د مدني قانون او امام مالک صاحب نظر يو شان دی، د ضرر په سبب جدايي ځکه رجعي طلاق نه دی چې تر څو مېړه ښځې ته د عدت په وخت کې رجوع ونه وکړي؛ چې د اذيت او ضرر سبب واقع نه شي.

---

[18] : هماغه، مدني قانون، ماده ۱۸۳.
[19] : وهبة الزحيلي(۱۴۲۲) هـ ق. الفقه الاسلاميه و ادلته، الجز السابع، المکتبة الحقانيه، پشاور، صفحه ۵۰۳.
[20] : هماغه، احمد الغندور، صحفه ۵۰۷.
[21] هماغه، مدني قانون، ماده ۱۸۵.
[22] هماغه، مدني قانون، ماده ۱۸۸.
[23] : هماغه، مدني قانون، ماده ۱۸۴.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دریم مبحث: د غیابت په سبب تفریق**

د مېړه د غیابت په سبب کله چې ښځې ته د ضرر ویره متصور شي، په دې صورت ښځه کولای شي له مېړه څخه د تفریق مطالبه د محکمې په وړاندې مطرح کړي، البته احناف، شوافعي، جعفریه او زیدوو علماوو په نزد د غیابت په سبب ښځه تفریق مطالبه نه شي؛ ځکه د اسلامي شریعت د احکامو په رڼا کې ښځې ته د غیابت په سبب د تفریق حق حاصل نه دی.[24] د حنابله او مالکیه علماوو په نزد د مېړه د اوږد او بې مؤجه غیابت په سبب ښځې ته د تفریق حق حاصل دی او پر بنسټ یې ښځه کولای شي په محکمه کې د تفریق مطالبه وکړي، البته د غیابت د مودې په اړه د فقهاوو تر منځ اختلاف موجود دی، امام مالک رح په نزد د غیابت موده که له یو کال څخه تر درې کلونو پورې اوږده شوه، ښځه د تفریق حق لري، احناف وایي که مېړه مفقود شي او تر ۱۱۰ کلونو پورې پیدا نه شي، ښځه د تفریق غوښتنه کولای شي، د امام ابو یوسف په نظر ۱۰۰ کاله، د ځینو نورو احنافو په نزد د غیابت موده ۸۰ کاله او امام مالک رح د غیابت لپاره موده ۴ کلونه ذکر کړې ده، یعني که د مفقود مېړه درک په دغه موده کې معلوم نه شي، ښځه کولای شي چې د محکمې څخه د تفریق مطالبه وکړي.

د افغانستان مدني قانون هم غیابت د تفریق سبب ګڼلی دی، البته مدني قانون د غیابت په سبب تفریق کې د مالکیه علماوو نظر تائید کړی او په ۱۹۴ ماده کې په دې ډول ورته اشاره کړې ده. "که مېړه درې کاله یا تر هغې زیات بې له معقول عذر څخه غایب شي، په هغه صورت کې چې ښځه د هغه د غیابت څخه ضرر وګوري، کولای شي چې د محکمې څخه جدایي وغواړي که څه هم مېړه د شتمنۍ خاوند وي او ښځه ور څخه خپله نفقه پوره کولای شي".[25] د مدني قانون د دې مادې اړوند باید ووایو چې، دلته بې د معقول عذر یادونه شوې، دلته معلومېږي چې ښځه د معقول عذر په سبب د تفریق غوښتنه نه شي کولای، نو مدني قانون د معقول یا هم غیر معقول عذر حالات نه دي بیان کړي، مګر که فقهي ته نظر وکړو نو؛ امام مالک او امام احمد بن حنبل رح په نزد د لاندې حالتونو څخه د یوه په شتون کې ښځه د تفریق غوښتنه کولای شي.

۱: د قبول شوي عذر څخه پرته د مېړه غیابت؛

۲: د غیابت له امله ښځې ته ضرر واقع کېدل؛

۳: د اوسېدو د سیمې څخه پرته په بله سیمه کې د مېړه غیابت؛

۴: د هغه کال تېریدنه چې ښځې ته پکې ضرر وارد شوی دی.[26]

د غیابت په سبب د تفریق د حکم په اړه فقهاء او مدني قانون په یوه خوله دي، د فقهاء په اتفاق د غیابت په سبب تفریق د رجعي طلاق په حکم دی، او مېړه کولای شي د عدت په موده په قول یا فعل سره رجوع وکړي، مدني قانون هم له همدې نظر څخه متابعت کړی چې همدا نظر مدني قانون ۱۹۷ ماده کې په دې ډول ذکر شوی دی." غیابت په سبب جدایي د رجعي طلاق حکم لري، که غایب مېړه حاضر یا بندي شي او مېړه خلاص شي، کولای شي د عدت د پوره کېدو څخه تر مخه خپلې ښځې ته رجوع وکړي".[27]

[24]: هماغه، احمد الغندور، صفحه ۵۱۹

[25]: هماغه، مدني قانون، ماده ۱۹۴.

[26]: هماغه، عبدالله یوسف مصطفی، صفحه ۲۰۵

[27]: هماغه، مدني قانون، ماده ۱۹۷.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ځلورم مبحث: د عدم انفاق په سبب تفريق**

د ښځې نفقه پر مېړه باندې واجب ده او مېړه مکلف دی چې ښځې ته مناسبه نفقه برابره کړي او په هيڅ صورت د مېړه له ذمې د ښځې د نفقې حق نه شي زايل کېدای.

ښځې ته د نفقې ورکولو په اړه د مدني قانون ۱۹۱ ماده په دې ډول صراحت لري. "(۱) د صحيح او نافذې نکاح په عقد، د ښځې نفقه په مېړه لازمېږي، که څه هم ښځه د خپلوانو په کور کې ژوند کوي".[28] د دې تر څنګ په اسلامي فقه کې هم د ښځې نفقه په مېړه باندې لازم ده، اما د عدم انفاق په سبب د تفريق په اړه د فقهاوو تر منځ اختلاف موجود دی، د احنافو په نظر، د نفقې د نه ورکول په سبب ښځه د تفريق حق نه لري او د جدايي مطالبه نه شي کولای، د جمهور علماوو په نزد، ښځې ته د نفقې د نه ورکولو په سبب که هغه د هر علت له مخې وي، نو ښځې ته د تفريق حق حاصل دی او کولای شي محکمې ته د جدا والي په موخه عارضه شي، چې د جهمورو علماوو نظرياتو ته په لاندې ډول اشاره کوو.

د امام مالک په نظر که چيرته مېړه بيدون د کوم ښکاره دليل ښځې ته نفقه ورنه کړي او زوجه د نفقې نه ورکولو په سبب زيان په محکمه کې ثابت کړي، په دې صورت کې محکمه د قضايي تفريق په اساس د رجعي طلاق حکم صادروي او مېړه کولای شي د عدت په ورځو کې ښځې ته بيرته رجوع وکړي.[29] د امام مالک په نظر د محکمې لخوا مېړه ته له دريو ورځو څخه تر دريو مياشتو پورې د نفقې د ادا کولو په هکله مهلت ورکول کېږي، که بيا هم مېړه د ښځې نفقه ادا نه کړي، محکمه د رجعي طلاق حکم صادروي.[30]، همدا شان د امام شافعي رح په نزد که چېرته مېړه شتمن وي او ښځې ته نفقه نه ورکوي؛ نو ښځه د نکاح د عقد د فسخې غوښتنه کولای شي، د امام احمد بن حنبل رح په نظر که ښځې ته د مېړه له لوري د نفقې نه ورکړه د غربت په سبب وي نو ښځې ته پکار ده چې د صبر او استقامت نه کار واخلي، مګر په عين حال کې ښځه د تفريق غوښتنه هم کولای. البته مدني قانون د نفقې د نه ورکړې په سبب د تفريق مطالبې ته په ۱۹۱ ماده کې په دې ډول اشاره کړې ده. " که مېړه د نفقې د ور کولو څخه ځان وژغوري، که په ظاهر کې د شتنمې مالک نه وي او د نفقې د ورکولو څخه يې بې وسي هم ثابته نه شي، ښځه کولای شي، چې د جدايي غوښتنه وکړي".[31]

البته بايد يادونه وکړو چې د نفقې د نه ورکول په سبب تفريق د رجعي طلاق په حکم دی او مېړه د عدت په ورځو کې کولای شي چې خپلې ښځې ته رجوع وکړي چې په دې اړه د مدني قانون ۱۹۳ ماده په دې ډول صراحت لري. " جدايي د زوجينو تر منځ د نفقې د نه ورکول په سبب د محکمې په حکم صورت مومي، د رجعي طلاق حکم لري، مېړه کولای شي خپلې ښځې ته د عدت د مودې په اوږدو کې رجوع وکړي؛ په دې شرط چې مېړه د نفقې د ورکولو لپاره خپل مالي قدرت او تياری ثابت کړي".[32] د طلاق د حکم په اړه د مدني قانون او فقهاو د نظرياتو تر منځ اختلاف شتون نه لري، بلکې مدني قانون د فقهاوو د نظرياتو متابعت او تعبداري کړې ده، نو په نتيجه کې ويلای شو چې، که مېړه د معقول عذر په سبب د نفقې د ورکول څخه ډډه کړې وي نو په دې صورت کې ښځې ته پکار نه ده چې د تفريق مطالبه وکړي اما د که مېړه پرته له معقول عذر او دليل ښځې ته د نفقې ورکولو څخه ډډه وکړي، نو په دې صورت کې ښځه کولای شي چې

[28]: هماغه، مدني قانون، ماده ۱۱۷.
[29]: هماغه، وهبة الزحيلي، صفحه ۴۹۰.
[30]: هماغه، احمد الغندور، صفحه، ۵۲۵.
[31]: هماغه، مدني قانون، ماده ۱۹۱.
[32]: هماغه، مدني قانون، ماده ۱۹۳.

(c) ketabton.com: The Digital Library

محکمې ته عارضه شي او د تفریق یا جدوالي غوښتنه وکړي البته دا تفریق د رجعي طلاق حکم لري او مېړه د عدت په ورځو کې کولای شي خپلې ښځې ته رجوع وکړي.

**پایله**

الله ج د انسان د پیدایښت سره سم د هغې د تسکین، ارام او اسوده ژوند لپاره د هغې له ذات نه د هغې لپاره جوړه پیدا کړه بیرته یې د هغې مابینه(ښځه) ورګرځوله، د شرعي نکاح په سبب یې هغوی ته د ګډ ژوند او د سالم نسل د تولید مشروع لار ښودله، چې په پایله کې د نړۍ پر مخ د خدای ج یو نا اشنا مخلوق ( انسان) خلق شو، الله ج انسان ته لوی شان او عزت ورکړ، ټول مخلوقات یې د هغې د ګټې او منفعت لپاره مسخر کړل، تر څو اسوده او ارام ژوند وکړي او په ښه شان سره د الله احکام ومني او اطاعت یې وکړي، د دې سترو نعمتونو څخه یو هم د ازدواج یا د ښځې او خاوند تر منځ په شرعي طریقه ګډ ژوند تېرول دي.

د دغه ګډ ژوند د رابطې جوړول یو لړ اصول او قواعد لري چې د هغې په چوکاټ کې باید دغه رابطه جوړه شي چې هغه د نکاح د عقد د صحت شرایط، د انعقاد شرایط او د لزوم شرایطو څخه عبارت دي، چې د دې ټولو شرایطو په احقاق سره د زوجیت یوه سالمه رابطه رامنځته کېږي او په اساس یې طرفین (زوج او زوجه) یو د بل په وړاندې حقوق او وجایب پیدا کوي، چې په رعایت سره د زوجیت اړیکه په درست شکل مخ ته ځي او تداوم پیدا کوي.

اما دا چې انسان یو احساساتي، ناشکره او کفور مخلوق دی، نو له دې وجې نه د الله ج نعمتونه له پامه غورځوي، سرکشي اختیاروي او منحرفو اعمالو ته مخه کوي، چې له دې وجې ځینې وختونه یې په کور د خپلې مېرمنې سره هم مشکلات منځته راځي، ځینې وختونه دا مشکلات عادي او د تحمل وړ وي، مګر کله کله تر دې حده رسي چې د ګډ ژوند تیرول ناممکنوي، نو په دې اساس د دواړو لوریو ناراضیتونه د دې باعث شي چې د زوجیت اړیکه د طلاق، خلع، فسخه او تفریق په سبب له منځته لاړه شي، نو دا چې زمونږ اساسي موضوع تفریق دی، نو دلته د طلاق، خلع او فسخې څخه صرف نظر کوو او تفریق چې په قضایي طلاق هم یادېږي، د څېړنې لاندې نیسو.

د افغانستان مدني قانون د تفریق څلور حالتونه بیان کړي، د عیب، ضرر، غیابت او عدم انفاق په سبب جدا والی مګر په فقه کې بیا دغه حالتونه زیات او د مدني قانون له ځینو مواردو څخه متفاوت دی، د بېلګې په توګه، د عیب، ضرر، غیابت، عدم انفاق، ارتداد، مصاهرت، رضاع، عدم کفاة، مهر مثل څخه د مهر کموالی، د مهر نه تادیه او بد معاشرت په سبب حالتونه شامل دي، په دغه ذکر شوو حالتونو کې ښځې ته شریعت او قانون دا حق ورکړی چې له ځانه ضرر دفع کړي او د محکمې څخه د تفریق یا جدا والي غوښتنه وکړي، محکمه د ادعا د اثبات په صورت کې په تفریق حکم کوي د غیابت او عدم انفاق په سبب تفریق د رجعي طلاق او عیب او ضرر په سبب تفریق د بائن طلاق په حکم کې ده په رجعي طلاق کې مېړه په عادي شکل رجوع کولای شي او د بائن طلاق په حالت کې د نکاح د عقد په تجدد په صورت کې کولای شي بیرته رجوع وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ماخذونه

۱: القران الکریم.

۱: عمید حسن(۱۳۸۹). فرهنګ فارسي عمید، انتشارات راه رشد، تهران.
۲: نصر الله ستانکزی(۱۳۸۷) د حقوقي اصطلاحاتو قاموس، پروژه امور عدلی و قضایی افغانستان.
۳: وهبة الزحيلي(۱۴۲۲) هـ ق. الفقه الاسلامیه و ادلته، الجز السایع، المکتبة الحقانیه، پشاور

۴: سید سابق(۱۹۹۷). فقه السنة، دویم ټوک، المنار للنشر و التوزیع، الفتح للا علام العربي، القاهره.

۵: عبدالله یوسف مصطفی(۱۱۹۵). انحلال الزواج فی الفقه و القانون، مرکز الشهید عزام الاعلامي، پشاور.
۶: احمد الغندور(۱۹۸۵). الاحوال الشخصیه في التشریع الاسلامي مع بیان قانون، مکتبه الفلاح، الکویت
۷: ابن العربي(۵۴۳)، احکام القران.
۸: جلال الدین السیوطي(۶۶۵ق). الأشباه والنظائر
۹: انظر القرطبي(۱۹۸۸). الجامع الأحکام القرآن.
۱۰: ابو عبدالله محمد بن یزید القزویني(). سنن ابن ماجة، محقق: محمد فواد عبدالباقي، بیروت.
۱۱: محمد کمال الدین(). الزواج و الطلاق في الفقه.
۱۲: محمد بن اسماعیل ابو عبدالله البخاري الجعفي(۱۴۲۲ق). صحیح البخاري، کتاب الطلاق.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**